مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ډاکټر لودویګ آدمک
ترجمه: رحمت آریا

۲۰۲۶/۰۷/۰۱

# د افغانستان بایوګرافیکي قاموس
# دوهم ټوک
## (اته نویمه برخه)

### نعمت الله شهراني

د عبادالله شهراني زوی د ۱۹۴۰ز کال په شاوخوا کې د بدخشان په شهرانِ خاص کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئې په فيض آباد، په پغمان کې د ليسې په سطح د ابو حنيفه په مدرسې کې، او د کابل پوهنتون د شرعياتو په پوهنځي کې ترسره کړي دي. خپله ماستري ئې د قاهرې د الازهر له پوهنتون څخه تر لاسه کړې ده. همدا شان د امريکا په متحده ايالاتو کې ئې هم زده کړې کړي دي. د کابل پوهنتون د «مجلۀ شريعت» [1] مدير. د کابل پوهنتون د شرعياتو د پوهنځي د تدريسي پرسونل غړی. د اسلامي شريعت په اړوند د يو شمېر آثارو ليکوال.

### شاه علي اکبر شهرستاني

په شهرستان کې زېږېدلی دئ. د کابل پوهنتون د ادبياتو د پوهنځي د تدريسي پرسونل غړی. د يو شمېر آثارو مؤلف لکه : د هزاره ګي لهجې د لغاتونو ټولګه، چې په ۱۹۸۳ز کال کې په کابل کې چاپ سوه؛ هزاره ګان په دري ژبې خبرې کوي.

### محمد اسحٰق شهريار

په ۱۹۳۶ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. ليسانس ئې په کيميا کې او ماستري ئې له «اوکلا څخه» په نړۍ والو اړيکو کې اخيستې ده. له ۱۹۵۹ تر ۱۹۶۱ز کال پورې د «افغان محصلينو خبرونو» [2] محرر. په ۱۹۶۱ز کال کې د «باندنيو محصلينو د کلپ» [3] رئيس. له ۱۹۶۷ تر ۱۹۶۸ز کال پورې د «افغان محصلينو د ټولنې» [4] رئيس. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د «تله داين د سهامي شرکت» [5] انجنير. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د «سنترا لب د سهامي شرکت» [6] مشر څېړندوی انجنير [7]. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د شننې/ تجزيه و تحليل د انستيتيوت [8] غير تدريسي مشر

---

1 - Majalat-i- Shariat
2 -Afghan Student News
3 -Foreign Student Club
4 -Afghan Student Association
5 -Teledyne Inc.
6 -Centralab Inc.
7 -Senior Research Engineer
8 -Institute for Analysis


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

څېړوندی [9] د ,,تي. آر. ډبليو د سهامي شرکت,, [10] غير تدريسي څېړندوی. له ۱۹۷۲تر ۱۹۷۳ز کال پورې د ,,هالکس د سهامي شرکت,, [11] د پروسس مدير. په ۱۹۷۳ز کال کې د ,,سپکټرولب د سهامي شرکت,, [12] د نړی والو عملياتو مدير. د ,,سولک انټرنشنل انک,, [13] بنسټګر او رئيس چې د PV د حجراتو، ماډلونو او سيستيمونو مؤلد دئ. د ولسمشر رونالډ ريګن د عملياتي ځواک [14] غړی.

## ډاکټر شاه ولي

د شاه بابا زوی د ۱۹۳۹ز کال په مارچ کې په کابل کې زېږېدلی دئ. د طب د ډاکټري M.D. سند ئـي د جراحي د تخصص په لړلو تر لاسه کړ. په ۱۹۶۶ز کال کې د عامي روغتيا د وزارت د يورولوژی د ډيپارټمنټ غړی وو. په ۱۹۶۷ز کال کې د کليو د پرمختګ د پروژې ډاکټر. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۱ز کال پورې د ابن سينا د روغتون ډاکټر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۴ز کال پورې د سمنګانو د عامي روغتيا د انسټيټيوټ جراح. تر ۱۹۷۸ز کال پورې د عامي روغتيا د وزارت غړی او د قوای کار جراح. له څه دباندې ۱۴ کالو راپه دېخوا د فغانستان د خلق ډيموکراټيک ګوند غړی. د ۱۹۷۸ز کال د مې په مياشت کې د عامي روغتيا وزير. د ۱۹۷۹ز کال د مارچ په مياشت کې مرستيال صدراعظم. د ۱۹۷۹ز کال د جولای په مياشت کې د باندنيو چارو وزير. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر په مياشت کې د پلان وزير. د حفيظ الله امين له پرځـېـدلو وروسته زندان ته واچول سو.*

## مارشال شاه ولي

سردار او محـمد زی دئ. د غازي، مارشال او د کابل د فاتح په لقبونو وياړل سوی دئ. په ۱۸۸۵ز کال کې زېږېدلی دئ. د سردار محـمد يوسف خان زوی او د اعليحضرت نادر شاه ورور دئ. د امير امان الله خان رکاب باشي وو. ,,رکاب باشي : د پادشاه د پليو محافظو سرتيرو مسؤول – ژ,, د ۱۹۱۹ز کال د جولای له مياشتي تر اکتوبر پورې ئـي د خرلاچي په مخاذ کې د سرتيرو بولنه وکړه. د توچي په سرحد کې د ښو خدماتو په پار ورته جنرالي ورکړل سوه. د ۱۹۲۰ز کال د مې په مياشت کې ئـي د امير امان الله خان له خور صفيـې، ثمرالسراج سره واده وکړ. د ۱۹۲۱ز کال د اپريل په مياشت کې د کابل د لومړی فرقې د بولندوی په توګه مقرر سو. په ۱۹۲۱ز کال کې په کابل کې د برتانيې – افغانستان د کنفراس يو له استازو څخه وو. د ۱۹۲۱ز کال په ډسمبر کې د لومړي سپارۀ ځواک د قوتونو بولندوی. په ۱۹۲۳ز کال کې د کابل د قوتونو په بولني يا قوماندانی مقرر سو. په ۱۹۲۴ز کال کې د حضوري ياور په توګه مقرر سو. له ۱۹۲۴ تر ۱۹۲۵ز کال پورې ئـي د منګلو د بغاوت پر مهال ئـي په لوګر کې د سرتيرو بولنه وکړه او د همدې خدمت لپاره د ,,تاجِ افغان,, اعزازي لقب ورکړل سو. د ۱۹۲۶ز کال د سپتمبر په مياشت کې له کابله پاريس ته لاړ، او د هغو محصلينو ملتيا ئـي وکړه چې له خپلو رخصتيو وروسته بيرته ستنيدل. ,,د فرانسي – ژ,, په ,,ګرس,, [15] کې له خپل ورور

[9] -Senior Research Associate
[10] -TRW Inc.
[11] -Halex Inc.
[12] -Spectrolab Inc.
[13] -Solec International Inc.
[14] -Task Force
[15] -Grasse


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

نادرخان سره وو. د ۱۹۲۹ز کال کې د فبرورۍ په میاشت کې د فرانسې له «مارسلس» [16] څخه له نادرخان او هاشم خان سره ووت او د ۱۹۲۹ز کال په مارچ کې له نادر خان سره یو ځای د خوست پر لور وخوځېد. د ۱۹۲۹ز کال د اکتوبر په ۱۳ نېټې ئې کابل ونیوۀ. د ۱۹۲۹ز کال په اکتوبر کې د نائب السلطنة په توگه مقرر سو. د ۱۹۲۹ز کال په نوامبر کې په لندن کې د سفیر په کچې دیپلوماتیک استازی مقرر سو. په ۱۹۳۰ز کال کې د «اعلی لمر» نښان ورته ورکړل سو. د ۱۹۳۰ز کال د جنورۍ د میاشتې په لسمې نېټې لندن ته ورسېد. خپل اعتبار لیک ئې اعلیحضرت پینځم جورج ته وسپارۀ. د ۱۹۳۱ز کال د جون په میاشت کې پاریس ته تبدیل سو. د ۱۹۳۲ ز کال په سپتمبر کې کابل ته د رخصتۍ لپاره راغی او له ځان سره ئې مرحوم غلام نبي، د ضمانت په ورکولو سره، راوړ. بېرته پاریس ته روان سو او خپل کار ئې د ۱۹۳۳ز کال په فبرورۍ کې له سره پیل کړ. د ۱۹۳۵ز کال د فبرورۍ په میاشت کې کابل ته راستون سو، او د شاه محمود په غیابت کې چې د اروپا په سفر تللی وو، ددفاع سرپرست وزیر وگومارل سو. په ۱۹۳۶ز کال کې د محمد هاشم خان په غیابت کې چې د اروپا په سفر تللی وو، سرپرست صدراعظم وگومارل سو. هغه فرمان ئې لاسلیک کړ چې په افغان ښوونځیو کې دې پښتو ژبه یوازینۍ د تدریس ژبه وي. د فرانسې د حکومت له لوري ورته افتخاري «مډال» په لمن لیک کې [17] ورکړل سوی دئ. په ۱۹۴۷ز کال کې د پاکستان او په ۱۹۵۰ز کال کې د برتانیې سفیر. د ۱۹۷۳ز کال د جولای له میاشتې له راوروسته په کور کې بندي او تر نظارت لاندې. په ۱۹۷۵ز کال کې له خپل زوی جنرال عبدالولي سره یو ځای له افغانستانه ووت او ایتالیا ته لاړ. د ۱۹۷۷ز کال د اپریل په میاشت کې په روم کې وفات سو او هماغلته خاورو ته وسپارل سو.

## محمد رحیم شیدا

د منشي علیرضاء زوی په ۱۹۲۲ز کال کې په میمنې کې زېږېدلی دئ. په ۱۹۵۱ز کال کې د میمنې ښاروال. په ۱۹۵۶، ۱۹۵۹ او ۱۹۶۹ز کلونو کې په ولسي جرگې کې د میمنې استازی. د ولسي جرگې لومړی سکرتر. شاعر.

## عبدالستار شالیزی

د غزني د شالیز له کورنۍ څخه، په ۱۹۲۲ز کال کې زېږېدلی دئ. د حبیبیې د لیسې فارغ. خپل لیسانس ئې د ایلې نویز له پوهنتون او ماستری ئې په ۱۹۵۴ز کال کې د کولمبیا له پوهنتون څخه واخیسته. په ۱۹۴۰ز کال کې د حبیبیې د لیسې مدیر. له ۱۹۴۴ تر ۱۹۴۶ز کال پورې د «کارگرانو ددفتر» [18] مدیر. په ۱۹۵۵ز کال کې د مطبوعاتو د ریاست مرستیال رئیس. په ۱۹۵۷ز کال کې د پلان په وزارت کې د پلان جوړونې رئیس. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۶ز کال پورې د کورنیو چارو وزیر. د ۱۹۶۶ز کال د جون په میاشت کې دوهم مرستیال صدراعظم. په ۱۹۷۴ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو ته لاړ. په ۱۹۸۲ز کال کې بېرته افغانستان ته راستون سو. درې میاشتې وروسته بېرته پاکستان ته وتښتېد.

[16] -Marseilles
[17] -Medal of Cordon de Legion d'Honneur
[18] -Labor Office


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**سید محسن شامل**

د میر حسین زوی په ۱۸۷۰ز کال کې د کابل په بالاحصار کې زېږېدلی دئ. د هماغه وخت دودیزې زده کړې ئـې تر لاسه کړې. د کاتب په توګه ئـې کار وکړ. په ۱۸۹۱ز کال کې وفات سو. شاعر

**ډاکټر مـحـمـد رفیق شمع ریز**

د حاجي محمد علي زوی په ۱۹۳۳ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. لومړنی زده کړې ئـې په کور کې او منځنی ښوونځی ئـې په ۱۹۴۱ز کال کې په "ګذر پرانچه" کې لوستی دئ. په ۱۹۵۳ز کال کې د استقلال له لیسې څخه د فلسفې او ټولنپـېژندني یا سوسیولوژي کې د درجې؟ په لړلو فارغ سوی دئ؛ او په ۱۹۵۷ز کال کې د کابل پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه فارغ سوی دئ. په ۱۹۵۷ز کال کې د باندنیو چارو په وزارت کې په کار شامل سو. له ۱۹۵۸ تر ۱۹۶۰ز کال پورې د عسکري مکلفیت دوره. له ۱۹۶۱ تر ۱۹۶۴ز کال پورې په پاریس کې د افغان سفارت دوهم سکرتر. په ۱۹۶۴ز کال کې ئـې خپله دکتورا په نړۍ والو حقوقو کې د پاریس د پوهنتون د حقوقو له پوهنځي څخه واخیسته. له ۱۹۶۵ تر ۱۹۶۷ز کال پورې د باندنیو چارو په وزارت کې د قراردادونو اوتړونونو د څانګې غړی. له ۱۹۶۸ تر ۱۹۷۰ز کال پورې د معلوماتو د څانګې مرستیال مدیر. له ۱۹۷۰ تر ۱۹۷۳ز کال پورې په وارسا کې د افغان سفارت لومړی سکرتر. له ۱۹۷۳ تر ۱۹۷۵ز کال پورې د څېړنو د دیپارتمنت مرستیال مدیر. له ۱۹۷۵ تر ۱۹۷۶ز کال پورې د لومړي سیاسي مدیریت (آسیایي چارو) مرستیال مدیر. له ۱۹۷۶ تر ۱۹۸۰ز کال پورې د دریم سیاسي مدیریت (د اروپا او امریکا د چارو) مدیر. په ۱۹۸۰ز کال کې په اسلام آباد کې د شارژدافیر او قـنسـل په توګه نوماند سو. په ۱۹۸۲ز کال کې ئـې استعفی وکړه او جلا وطن سو. لیکوال او شاعر هم دئ.

**نور بیا**

**امیر الدین شنسب**

د شمس الدین زوی په ۱۸۹۹ز کال کې په کابل کې زېږېدلی دئ. زده کړې ئـې...

قدرمنو لوستونکو! د ښاغلی رحمت آریا د آرشیف: لینک


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ